## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

### د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**3جوزا_سال 1403**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

# فهرست مطالب

عنوان صفحه

د وزارت محترم مقام د لارښوني پر اساس ددغه وزارت بیا ځلي میشتېدني ریاست رییس مولوي شکرالله شاکر په مشرۍ یو پلاوي بدخشان ولایت ته لیږل شوي ---------------------------------------------------------------------------1

هیات اعزامی وزارت امورمهاجرین به ولایت غور سفر کرد -------------------------------------------------------2

په جوزجان کې له ۱۰۰ ښځه زیات راستانه شوی زده کونکی د حرفوی زده کړو پروګرام ته معرفی شول-------------2

صد ها تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود ------------------------------------------------------------3

ایران ښځه تر دوو زرو زیات مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول-------------------3

برای ۱۵ خانواده در ولایت خوست وسایل برق آفتابی ( سولر) توزیع شد -------------------------------------------4

هلمند کې تر ۱۰۰ زیاتو کسانو ته نغدي مرسته ووېشل شوه--------------------------------------------------------4

۱۵ خانواده در ولایت ننگرهار، کمک نقدی دریافت نمودند---------------------------------------------------------5

فنلنډ له روسيې سره پر پوله د کېوالو د په شا تمبولو قانون مسوده چمتو کړې ده-----------------------------------6

چک جمهوریت کې د قاچاقبرو یوه ۱۴ کسیزه ډله نیول شوې -------------------------------------------------------8

بیشتر از ۷۵ هزار درخواست پناهندگی در اتحادیه اروپا در ماه فبروری ارائه شده است ---------------------------10

نجات ۵۲ مهاجر از آب های مدیترانه توسط «دیدبان دریا« -------------------------------------------------------11

# متن کامل اخبار

## د وزارت محترم مقام د لارښوني پر اساس ددغه وزارت بیا ځلي میشتېدني ریاست ریيس مولوي شکرالله شاکر په مشرۍ یو پلاوي بدخشان ولایت ته لیږل شوي

د وزارت ویب سایت



**د پلاوي موخه په یاد ولایت کې د وروستیو سیلابونو په پایله کې د رامنځ ته شویو تلفاتو دقیق ارقام معلومول، د شهیدانو له کورنېو سره غمرازي، مرسته او همکاري ده.**
**یاد پلاوې پرون ۱/۳/٤۱۰۳ نیټه د بدخشان ولایت له محترم والي محمدایوب خالد سره د یاد ولایت په مقام کې ناسته وکړه.**
**ښاغلي محمدخالد ایوب پلاوې ته ښه راغلاست ووایه او د وزارت له رهبري څخه يې قدرداني وکړه.**
**وریپسې د پلاوې مشر مولوي صاحب شکرالله شاکر د ناستې ګډونوالو ته د  وزارت د رهبري پیام وړاندې کړ او د مرستو د توزیع په برخه کې یې لازم تصمیمونه ونیول.**
**په ورته ورځ د پلاوي مشر او مل ټیم یې د یاد ولایت په ارګو او درایم ولسوالیو کې سیلاب ځپلیو او د شهداوو له ورثه ؤ سره د وزارت د محترم مقام په نمایندګی غم شریکي وکړه او د وزارت محترم مقام پیام یې د یادو ولسوالیو اوسېدونکو ته وړاندې کړ.**
**په پای کې ٥٥ سیلاب ځپلیو کورنیو له هرې کورنۍ سره ۱۰ زره افغانۍ نغدي او یوه اندازه خوراکي توکو مرسته وشوه.**

همدارنګه د یاد ولایت ریاستونو د ریپسانو تر څارنې لاندې ٤ سیلاب ځپلو شهیدانو له هرې کورنۍ سره ۳۰ زره افغانۍ نغدې او خوراکي توکو مرسته وشوه.

## هیات اعزامی وزارت امورمهاجرین به ولایت غور سفر کرد

ویب سایت وزارت



هیات اعزامی وزارت امور مهاجرین و عودت کننده گان که به ولایت غور بخاطر مساعدت به آسیب دیده گان ناشی از سیلاب سفر نموده است با مولوی روح الله طریقت معاون والی وریس کمیته رسیدگی به متضررین نشست نموده و هدف سفر خویش را بیان نموده اند .

معاون والی سفر هیات اعزامی را به آن ولایت خوش آمدید گفته از رهبری مقام وزارت مهاجرین و اعزام هیات در حمایت و رسیده گی به آسیب دیده گان سیلاب قدر دانی نمود.

هیات یاد شده که تحت ریاست مولوی مطیع الله خلوتی آمر کادر های مسلکی وزارت بوده قرار است به زودی مساعدت های این وزارت را که شامل خیمه وکمپل میباشد برای متضررین ناشی از سیلاب های اخیردر آن ولایت توزیع نماید.

## په جوزجان کې له ۱۰۰ څخه زیات راستانه شوی زده کونکی د حرفوی زده کړو پروګرام ته معرفی شول

د وزارت ویب سایت




**د جوزجان ولایت د مهاجرینو ریاست خبر ورکړي چې د۱۴۰۳ لمریز کال د غبرګولي په لمړی نیټه له ګاونډیو هېوادونو څخه په اجباری توګه راستانه شوی ۱۷۰ تنه مسلکی زده کړو ته معرفی شول.**

**یاد کسان تر دې وړاندې په مرکز، اقچې او فیض اباد ولسوالیو کې پیژندل شوی او د څلورو میاشتو په اوږدو کې به د مهاجرت نړیوال سازمان په همکاری په مختلفو برخو لکه: د جامو ګنډلو، ګلدوزی، موټرسایکلونو ترمیم، د موټرو ترمیم، ترکاڼې، فلزکاری برخو کې تخنیکی او مسلکی زده کړې ترلاسه کړی.**

**د یادونې وړ ده چې هره میاشت به ددې برنامې ګډونوالو ته د یاد سازمان له لورې ۳۵۰۰ افغانی هم ورکول کیږی.**

## صد ها تن مهاجر طور جبری از پاکستان برگشت نمود

ویب سایت وزارت

**۶۶۵ تن مهاجر افغان به تاریخ های ۳۱ ثور و اول جوزا از خط فرضی تورخم به کشور برگشت نموده اند.**

**به اساس معلومات آمریت سرحدی تورخم ولایت ننگرهار، ۱۲۲ خانواده که شامل ۶۶۵ تن بودند، طور جبری از پاکستان برگشت نمودند و بعد از ثبت درااداره امور مهاجرین جهت کمک به دفاتر کمیشنری عالی ملل متحد و سازمان بین المللی مهاجرت معرفی شدند.**

## ایران څخه تر دوو زرو زیات مهاجرین پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول

د وزارت ویب سایت

**په ایران کې مېشت دوه زره او ۷۶۹ تنه افغان مهاجرین پرون د غبرګولي پر لومړی ورځ د هرات د اسلام کلا له لارې پخپله خوښه او په جبري توګه خپل هېواد ته راستانه شول.**

**د هرات د اسلام کلا د سرحدي آمریت د معلوماتو له مخې، په دغو کسانو کې کورنی هم شاملې وې، چې ۵۲۴تنه یې اړمن**

وپېژندل شول او د مرستو په موخه د مهاجرت نړیوال سازمان دفتر ته ور وپېژندل شول او خوراکي او غیر خوراکي توکي یې ترلاسه کړل.
دغه راز ۹۲کورنیو سره لس لس زره افغانۍ مرسته وشوه، ۲۰ بې سرپرسته ماشومان د خپلو کورنیو د پېژندنې په موخه وارچایلډ موسسې ته ور وپېژندل شول، ۲۰۳ تنو ته هلته په پوله کې د ګومارل شوو کمپټو له خوا په وړیا توګه سیمکارتونه وویشل شول او ۱۹۵ تنه نور له روغتیایي خدمتونو څخه برخمن شول.

## برای ۱۵ خانواده در ولایت خوست وسایل برق آفتابی ( سولر) توزیع شد

ویب سایت وزارت



برای ۱۵ خانواده در ولایت خوست، وسایل برق آفتابی (سولر) بتاریخ  اول جوزا توزیع شد.

خانواده های مذکور قبلاً در و لسوالی باک از جانب ریاست مهاجرین آن ولایت سروی شده بودند که پس از آن

یک تخته سولر، یک عدد بطری همراه با و سایل آن را از جانب شورای مهاجرت ناروی دریافت نمودند.

## هلمند کې تر ۱۰۰ زیاتو کسانو ته نغدي مرسته وویشل شوه

د وزارت ویب سایت



**په هلمند ولایت کې د غبرګولي پر لومړۍ ورځ له ۱۶۰ کسانو سره نغدي مرسته وشوه.**

**په دوی کې راستانه شوي، ناروغان او معیوب کسان شامل وو، چې مخکې هلته د ولایت په مرکز کې د دغه ولایت د مهاجرینو چارو ادارې له خوا سروې شوي وو او د ژغورنې نړیوالې کمیټې له لورې په دوو برخو کې د لس زره او پنځه زره افغانیو په ارزښت مرسته ورسره وشوه.**

## ۱۵ خانواده در ولایت ننگرهار، کمک نقدی دریافت نمودند

ویب سایت وزارت




**برای ۱۵ خانواده برگشت کننده، در ولایت ننگرهار کمک نقدی  بتاریخ اول جوزا توزیع شد.**

**خانواده ها ی مذکور قبلاً از طرف ریاست مهاجرین آن ولایت، سروی و مستحق شناخته شده بودند.**

**کمک متذکره در کتگوری های مختلف مبالغ (۱۲ هزار، ۱۶ هزار و ۵۰۰ ، ۱۵ هزار، ۱۹ هزار، ۱۸ هزار، ۱۴ هزار افغانی ) کمک شورای مهاجرت د نمارک بود که با نظارت ریاست امور مهاجرین توزیع شد.**

## فنلنډ له روسيې سره پر پوله د کډوالو د په شا تمبولو قانون مسوده چمتو کړې ده

مهاجرنیوز



**د فنلنډ محافظه کار حکومت د سه شنبې په ورځ اعلان وکړ، د هغه قانون مسوده یې چمتو کړې چې له مخې به یې د دغه هېواد پوله ساتي ځواکونه اجازه ولري د فنلنډ له پولې څخه کډوال په شا وتمبوي. هلسینکي وایي چې دا مسوده یې له روسیې څخه فنلنډ ته د اوښتونکو کډوالو د څپې د مخنیوي لپاره چمتو کړې ده .**

**وروسته له هغه چې د تېر مني په جریان کې له روسیې څخه تر ۱۰۰۰ زیاتو کډوالو له ویزې پرته ځانونه د فنلنډ خاورې ته ورسول، د دغه هېواد لومړي وزیر پیټري اورپو د سه شنبه په ورځ، د می په ۲۱مه، وویل چې د مهاجرو د څپو د مخنیوي لپاره نویو قانوني اختیاراتو ته اړتیا شته.**

**د روسیې او فنلنډ ترمنځ ګډه پوله ۱۳۴۰ کیلومتره اوږدوالی لري. هلسینکي مسکو په دې تورنوي چې په پلان شوي ډول یې کډوال اروپایي ټولنې ته تک ته هڅولي دي، خو روسي چارواکي بیا دا ادعا ردوي.**

**فنلنډ د ۲۰۲۳ په نومبر میاشت کې <u>له روسیې سره خپله پوله وتړله</u> .فنلنډي چارواکو د اپریل په پیل کې ویلي وو چې یاده پوله به «تر امر ثاني پورې» تړلې وي. لومړي وزیر پیټري ارپو ټینګار کړی دی چې د دغه قانون موخه له کډوالو څخه د ابزاري ګټې د اخیستلو مخنیونه او «پر فنلنډ د وارد شوي فشار سره مبارزه» ده.**

**دا هم ولولئ**
**<u>فنلنډ وایي زرګونه کډوال د روسیې له خاورې یې پولو ته د اوښتو هڅه کوي</u>**

**د فنلنډ او روسیې ترمنځ ویرولاتي پوله، د ۲۰۲۴ د جنورۍ ۱۴. انځور: رویترز**

پناه غوښتنلیکونه نه منل کېږي

په یاده مسوده کې راغلي دي چې فنلنډ صلاحیت لري د بې اسناده کډوالو د ورتګ د مخنیوي لپاره په ځینو سرحدي سیمو کې حداکثر د یوې میاشتې لپاره د پناه غوښتنلیکونو له منلو ډډه وکړي. د قانون د مسودې له مخې، یوازې ځینې مهاجر لکه ماشومان او معلومان کولی شي چې د پوله ساتو ځواکونو د تایید په صورت کې یادو سیمو کې د پناه غوښتنه وکړي.

د فنلنډ د کورنیو چارو وزارت د قضایي چارو مسولې سانا پالو ویلي دي چې «پاتې کسانو ته به هدایت ورکړل شي چې له فنلنډ څخه ووځي او که اړتیا وي نو د هغوی د شړلو لپاره به له زور څخه کار واخیستل شي.«

حکومت دا هم ویلي دي چې هغه کډوال چې «ترې ابزاري ګټه اخیستل شوې» او فنلنډ ته داخل شوي سمدلاسه له فنلنډ څخه شړل کېږي .چارواکو زیاته کړې ده چې حکومت صلاحیت لري چې «استثنایي وضعیت» ته په کتو سره او د یو بهرني هېواد له خوا د فنلنډ ملي حاکمیت او امنیت ته د ګواښ د پېښولو په تړاو د «موجه شک» په صورت کې تصمیم ونیسي.

دغه تصامیم باید د فنلنډ د ولسمشر له خوا تایید شي.

انځور: ګوګل مېز

بل پلو بیا د دې مسودې مخالفان یاد قانون له نړیوالو تړونونو او د فنلنډ اساسي قانون کې د بشري حقونو په تړاو له درج شویو ضمانتونو سره په ټکر کې بولي. د فنلنډ د قضایي چارو مستشار توماس پویستي، چې د حکومت د تصامیمو د مشروعیت د بررسي کولو دنده لري، د مې میاشتې په پیل کې ویلي وو چې له همدې وجې د دغه قانون عملي کول سخت دي.

د دې مسودې د تصویب لپاره د فنلنډي استازو د رایو اکثریت ته اړتیا ده.

دا هم ولولئ
<u>فنلنډ: له روسیې سره پر پوله د هرکلي له مرکزونو څخه لسګونه کډوال لادرکه شوي</u>

## چک جمهوریت کې د قاچاقبرو یوه ۱۴ کسیزه ډله نیول شوې

مهاجرنیوز




**د چک جمهوریت چارواکي وايي د انساني قاچاقبرو یوه ۱۴ کسیزه ډله نیولې ده چې ویل کېږي تر ۲۰۰۰ زیات کسان یې له ترکیې ځخه اروپايي ټولنې ته لیږدولي دي .**

**د چک جمهوریت امنیتي ځواکونو د سه شنبې په ورځ، د می په ۲۱مه، خبر ورکړ چې ۱۴ شکمن کسان یې اروپایي ټولنې ته د کډوالو د قاچاق په تور نیولي دي. ویل کېږي چې یادې ډلې له ۲۰۲۱ راهیسې لږترلږه ۲۰۰۰ کسان له ترکیې ځخه اروپایي اتحادیې ته انتقال کړي دي.**

**د چک جمهوریت د پولیسو په سایټ کې له پلان شویو جرمونو سره د مبارزې ادارې د ویاند یاروسلاو ابېهي له قوله لیکل شوي دي که چېرې پر دغو کسانو لګول شوي تورونه ثابت شي، تر ۱۶ کاله پورې د بند سزا ورکول کېدای شي.**

**پولیسو زیاته کړې ده چې یادې ډلې د خپلو فعالیتونو له درکه لږترلږه دوه میلیونه یورو ګټه ترلاسه کړې ده.**

**تورنو کسانو له ترکیې ځخه کډوال چک جمهوریت او له دغه هېواد ځخه بیا د اروپایي ټولنې نورو هېوادونو ته لیږدول. ښاغلي ابېهي ویلي دي چې پولیسو د خپلو عملیاتو په پایله کې ۴۰ زره نغدې پیسې او دوه موټرونه ترلاسه کړي او یو کور یې ضبط کړی دی.**

**دا هم ولولئ**
**<u>دریو اونیو کې د چک جمهوریت پولیسو له ۷۰۰ ځخه ډیر ناقانونه کډوال نیولي</u>**

**پر پوله کنټرول**

**د یادولو ده چې چک جمهوریت د ۲۰۲۳ په نومبر کې د نامنظمو سرحد اوښتنو د مخنیوي په موخه له سلواکیې سره پر پوله کنټرول پیل کړی و. پولنډ او اتریش دوه نور هېوادونه وو چې له سلواکیا سره پر مشترکو سرحدونو د کنټرول د رامنځته کولو اعلان کړی و.**

**هغه مهال د چک جمهوریت د کورنیو چارو وزیر ویت راکوسان ویلي وو چې له سلواکیا سره پر پوله کنټرول ځکه اړین دی چې اروپایي ټولنه پر خپلو باندنیو پولو د مهاجرت د کمولو لپاره مشترک او واحد سیاست نه لري.**

**آلماني چارواکو په خپل وار سره له چک او یو شمېر نورو هېوادونو سره د امنیتي کنټرول د پیل او د غځولو خبر ورکړی و. د آلمان حکومت ویلي وو چې د دغه کنټرول موخه د غیر اصولي مهاجرت محدودول او د کډوالی سره ترلي قاچاق سره مبارزه کول دي.**

## بیشتر از ۷۵ هزار درخواست پناهندگی در اتحادیه اروپا در ماه فبروری ارائه شده است

مهاجرنیوز




**۷۵ هزار و ۴۴۵ نفر در ماه فبروری در اتحادیه اروپا درخواست پناهندگی دادند که اندکی بیشتر از ماه مشابه در سال گذشته است.**

**همانطور که اداره آمار اروپا «یوروواستات» روز سه شنبه در لوکزامبورگ اعلام کرد، این افزایش ۲ درصد بوده است.**

**سه چهارم درخواست ها تنها در چهار کشور آلمان، اسپانیا، ایتالیا و فرانسه ارائه شده است. بالاترین میزان درخواست ها (۱۹۴۹۰) را آلمان دریافت کرده است.**

کشور اصلی مبدا پناهجویان مانند ماه های گذشته سوریه (۱۰۴۶۵) بوده و به تعقیب آن افغانستان (۶۹۵۰) و ونزوئلا (۵۸۰۰) قرار می گیرند.

بر اساس گزارش «یوروستات»، تعداد افراد زیر سن قانونی بدون همراه به ۲۵۵۵ نفر می رسیده است. در اینجا نیز بزرگترین گروه (۷۱۰) از سوریه بوده است. در این قسمت هم مقامات آلمانی (در میان کشورهای اتحادیه اروپا) بیشترین درخواست های حمایت از سوی کودکان و جوانان بدون سرپرست قانونی (۱۰۲۵) را دریافت کردند.

## نجات ۵۲ مهاجر از آب های مدیترانه توسط «دیدبان دریا»

مهاجرنیوز




کشتی نجات "دیده بان دریا ۴"، ۵۲ مهاجر را در دریای مدیترانه نجات داده است. سازمان نجات دریایی "Sea-Eye" یا "دیده بان دریا" که این کشتی را اداره می کند، روز سه شنبه اعلام کرد که مهاجران عصر دوشنبه در منطقه جستجو و نجات مالتا نجات داده شده اند.

براساس گزارش ها بازماندگان در یک قایق بسیار مزدحم بوده اند که از فایبرگلاس ساخته شده و در زمان نجات برای دریانوردی مناسب نبوده است.

گفته شده است که یک کشتی نجات خصوصی دیگر به نام "Mare Go" نخست تماس اضطراری فرستاده و سپس (برای جلوگیری از غرق شدن قایق) موقعیت قایق مهاجران را تثبیت کرده و در میان سرنشینان واسکت های نجات توزیع کرده است. مقامات ایتالیایی بر اساس گزارش کشتی نجات "دیده بان دریا ۴"، این کشتی را به بندر راونا در شمال فرستاده اند که حدود ۹۰۰ مایل دریایی دورتر است. به گزارش سازمان نجات دریایی " دیدبان دریا"، بیشتر پناهجویان نجات داده شده از سوریه هستند.

**یولیا شوایکرت، که رهبری این ماموریت را به دوش داشته است، از این انتقاد کرد که مقامات ایتالیا آنها را به یک بندر بسیار دور فرستاده اند. او در ادامه گفته است» :به این ترتیب بازماندگان باید پنج روز دیگر را در بحیره مدیترانه بگذرانند تا ما موفق بشویم در بندر لنگر بیاندازیم.«**

**اخیرا هرکدام از کشتی های نجات "Ocean Viking" از سازمان"اس او اس مدیترانه" و "SOS Humanity از سازمان اس او اس هومانیتی، ده ها پناهجو را از غرق شدن در دریای مدیترانه نجات داده اند. بحیره مدیترانه یکی از خطرناک ترین راه های فرار در جهان است. طبق گزارش سازمان بین المللی مهاجرت (IOM) از ابتدای سال جاری تاکنون حداقل ۸۱۷ پناهجو و مهاجر در حین عبوراز این بحیره جان باخته یا مفقود شده اند. در سال ۲۰۲۳ رقم پناهجویان مفقود شده و یا جان باخته به ۳۱۰۵ تن رسیده بود.**

خبرنامه